د افغانستان اسلامي امارت

**د ارشـــاد، حـــج او اوقافـــو وزارت**

**د مساجدو او حُسَينيو د ارشاد او انسجام لوی رياست**

**دجمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**ليکلی تقرير اوبيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو**

**ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.**

---

**۱/ شوال المکرم /۱۴۴۷ هـ، ق مطابق ۲۹/ حوت/۱۴۰۴هـ، ش**

# د نيکمرغه کوچني اختر فضائل او احکام، او د عاليقدر امير المؤمنين حفظه الله اختريز پيغام

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الحمد لله الذي أتم لنا رمضان وبلَّغنا شوال، ونسأله سبحانه أن يبلِّغنا منازل الصديقين في أعلى الجنان، والصلاة والسلام على سيد الأنام ، سيدنا محمد وآل بيته وأصحابه الأعلام، ومن تبعهم بإحسان إلى يوم العرض والميزان، أما بعد:

قال الله عزوجل في محكم كتابه وهو أصدق القائلين: (قَدْ أَفْلَحَ مَنْ تَزَكَّىٰ * وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهِ فَصَلَّىٰ) الاعلى: (۱۵)

**درنو مسلمانانو، حاضرينو او اوريدونکو !**

**السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته**

نن ورځ يوم الجزاء ورځ ده، چاچې ورځې روژه نيولي وي او د شپې يې قيام رمضان کړی وي، نو ددغو خلکو د کاميابۍ ورځ ده او هغه چاچې بدون له عذره روژه نه وي نيولې او يا يې د روژې شرائط او آداب نه وي رعايت کړي او د شپې له خوا يې په عبثياتو تيره کړې وي، دداسې خلکو لپاره د ناکامی ورځ ده.

نن د شوال المکرم لومړی تاريخ او د کوچني اختر لومړۍ ورځ ده.

اختر ته په عربي کې (عيد) وايې او (عيد) ورته ځکه وايې چې هرکال راګرځي.

يا داچې په دې ورځ کې د الله تعالی احسانونه بندګانو ته راګرځي او يا دا چې داختر په راګرځيدلو سره خوشحالي هم راګرځي. الجوهرة النيرة (۱/ ۳۶۶)

**د کوچني اختر دمشروعيت دليل:**

کوچنی اختر چې عيدالفطر هم ورته وايې د هجرت په دوهم کال مشروع شوی دی.

الله جل جلاله فرمايلي دي:(قَدْ أَفْلَحَ مَنْ تَزَكَّىٰ * وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهِ فَصَلَّىٰ) الاعلى: (۱۵)

ترجمه: په تحقيق برى موندلی، (په مراد رسيدلي دي) هغه څوک چې پاک شوي دي(په ايمان سره له معاصيو) او ياد يې کړ نوم د رب خپل(په تکبير سره) بيا يې لمونځ وکړ [تفسير کابلی]

مفسرين وايې يو قول دادی چې د(وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهِ فَصَلَّىٰ) آيت څخه مراد د کوچني اختر لمونځ دی.

امام طبري رحمه الله وايي:(عُنِيَ به صلاة العيد يوم الفطر).تفسير الطبري (۲۴/ ۳۷۵)ژباړه:چې ددې آيت څخه مراد دکوچني اختر لمونځ دی.

هرکله چې نبي عليه السلام مدينې منورې ته هجرت وکړ، په مدينه منوره کې خلکو په کال کې دوه ورځې لمانځلې او په دغو دوه ورځو کې يې خوشحالي او لوبې کولې، نبي عليه السلام پوښتنه وکړه چې دا دوه ورځې د څه شي دي؟ هغوی ورته وويل: دجاهليت په زمانه کې به په دې دوه ورځو کې مونږ خوشحالي کوله. نبي عليه السلام ورته وويل:(إِنَّ اللَّهَ قَدْ أَبْدَلَكُمْ بِهِمَا خَيْرًا مِنْهُمَا يَوْمَ الأَضْحَى وَيَوْمَ الْفِطْرِ). سنن أبی داود (۱/ ٤٤۱)

ژباړه: بیشکه الله تعالی ستاسو  دا دوه ورځې بدلې کړلې په دوه نورو ورځو سره، چې هغه دواړه ورځې ډیرى غوره دي ددې دوه ورځو څخه ، چې یوه یې د لوى اختر ورځ ده او بله یې د کوچني اختر ورځ ده.

ویل کیږي چې دغه دوه ورځې چې اهل مدینه وو په کې خوشحالي کوله او هغه یې لمانځلې هغه د نیروز او مهرجان ورځې وې. او نبي علیه السلام دغه دوه ورځې ځکه بدلې کړې، چې د هر قوم اختر یا خو سبب وي د هغوى ددیني شعائرو د لمانځلو لپاره او یا په د هغه قوم د مذهب د امامانو  سره موافقت او پیروي کې پرته وي. نبي علیه السلام ددې څخه وویریدلو چې که چیرې دوى په همدې عادت باندې پریږدي ؛ نو د جاهلیت د زمانې شعار به تحقق او دوام پیدا کړي.نو دا دوه ورځې یې په داسې دوه ورځو بدلې کړلې، چې په هغو ورځو کې د اسلام د حنیفي دین شعار پروت دى او په دغو ورځو کې د ځان ښایسته کولو  ترڅنګ یې د الله تعالى ذکر او طاعت کول ور زیات کړل؛ ددې لپاره چې د مسلمانانو اجتماع محض د لوبو لپاره ونه ګرځي.

## د اخترونو د مشروعیت حکمت:

 الله تعالى اخترونه د ډیرو حکمتونو لپاره مشروع کړي دي ، چې ځیني یې په لاندې توګه دي:

۱-د روژو د عبادت د ترسره کولو څخه وروسته د شکر اداء کولو لپاره د کوچني اختر لمونځ مشروع شوى دى.

۲-اختر د خوښیو او خوشحالیو، جمال او ښاست د اظهارولو او د اختر د ورځو د لمانځلو لپاره مشروع شوى دى. هرکله چې مسلمانانو د اسلام ستره فریضه چې روژه ده پرځاى کړه ، الله تعالى ورته په پاى کې داسې ورځ وټاکله چې په هغه ورځ کې مسلمانان او د هغوى کورنۍ خپله خوشحالي وکړي او په دې ورځ کې د الله تعالى ددې نعمت شکر وباسي، چې الله تعالى ورته د روژو د ستر عبادت د ترسره کولو توفیق ورکړ.

همدا راز د اخترونو په لمانځلو کې حکمت دادى، چې د هر قوم لپاره یوه داسې ورځ وي، چې هغه قوم په هغه ورځ کې خپل ځانونه ښایسته کوي، تَجَمُّل کوي او د خپلو کورونو څخه د خپل زینت او ښایست سره راوځي، نو داسلام مقدس دین هم د مسلمانانو لپاره دغه د اخترونو دوه ورځې د جمال او ښایست د ظاهرولو ورځې وټاکلې او د اسلام مقدس دین پر دې برسیره د اختر په ورځو کې عبادات او طاعت هم لازم کړ، ددې لپاره چې د مسلمانانو خوښي،خوشحالي کول محض لهو ولعب نشي.

۳- اختر او د اختر لمونځونه چې د اسلام او د مسلمانانو شعائر دي ، د دغو شعائرو د لمانځلو لپاره اخترونه مشروع شوي دي.

 اخترونه او د اخترونو لمونځونه د اسلام اومسلمانانو واضحه او اتفاقي شعائر دي او ددغو شعائرو لمانځل اسلامي او دیني مقصودي اهداف دى.

داچې اخترونه او د اخترونو لمونځونه داسلام او مسلمانانو واضحه شعائر دي علامه دقیق العید داسې لیکي:( اخترونو لمونځونه په شریعت کې مطلوب شعائر الله دي او دا په تواتر سره ثابت دي ؛ ترڅو مسلمانان په دې ورځو کې دالله تعالى تکبیر، تحمید، تمجید، او توحید په داسې پراخه پیمانه ظاهر کړي چې کفار ورباندې خوا بدي کړي).[ باختصار من  إحكام الأحكام  ۱/ ۳۴۰]

۴-د مسلمانانو د وحدت ، یووالي ، قوت ، شوکت او دبدبې نورو قومونو ته ظاهرول.

د اختر د ورځو په لمانځلو کې د شریعت یو بل مقصد هم پروت دى او هغه داچې هر ملت په یوه ورځ کې د خپلو اولادونو سره په یو ځاى کې سره را ټولیږي او خپل قوت ، شوکت او دبدبه نورو قومونو ته ښکاره کوي؛ نو مسلمانان هم په دې ور ځ کې خپل وحدت، قوت ، شوکت او کثرت نندارې ته وړاندې کوي او د اختر په ورځ د اولادونو سره خالي میدان ته وځي، ددې وجى نه په اختر کې د ټولو خلکو وتل آن تر ماشومانو پورې مستحب دي.[با استفاده از حجة الله البالغة: ۱/ ٤٧١]

## د کوچني اختر فضائل:

د کوچني اختر ورځ د مسلمانانو لپاره د عبادت او بندګۍ ورځ ده ، اختر هغه ورځ ده چې په دې ورځ کې الله تعالى خپلو بندګانو ته د هغوى د عمل (روژې) عوض ورکوي؛ ځکه ورته په ځینو روایاتو کې (یوم الجزاء) ویل شوى ده.

د کوچني اختر ورځ ، هغه ورځ ده چې الله تعالى په کې د مسلمانانو ګناهونه ښښي.په یو حدیث شریف کې راځي:( فَإِذَا كَانَ يَوْمُ عِيدِهِمْ يَعْنِي يَوْمَ فِطْرِهِمْ بَاهَى بِهِمْ مَلَائِكَتَهُ قَالَ: يَا مَلَائِكَتِي مَا جَزَاءُ أَجِيرٍ وَفَّى عَمَلَهُ؟ قَالُوا: رَبَّنَا جَزَاؤُهُ أَنْ يُوَفَّى أَجْرَهُ، قَالَ: مَلَائِكَتِي عَبِيدِي وَإِمَائِي قَضَوْا فَرِيضَتِي عَلَيْهِمْ ثُمَّ خَرَجُوا يَعِجُّونَ إِلَيَّ بِالدُّعَاءِ وَعِزَّتِي وَجَلَالِي وَكَرَمِي وَعُلُوِّي وَارْتِفَاعِ مَكَانِي لَأُجِيبَنَّهُمْ، فَيَقُولُ: ارْجِعُوا فَقَدْ غَفَرْتُ لَكُمْ، وَبَدَّلْتُ سَيِّئَاتِكُمْ حَسَنَاتٍ. قَالَ: فَيَرْجِعُونَ مَغْفُورًا لَهُمْ). شعب الإيمان - (۵ / ۲۹۱) وفي سنده ضعف لکن احادیث الفضائل یتسامح فیها کماقاله النووي فى الأذکار - (۱ / ۱۷۱)

ژباړه: کله چې ددوی داختر ورځ شي یعنې د کوچني اختر ورځ شي، الله تعالی فخر کوي په دوی باندې او ملائکو ته او وايي: ای ملائکو ! د هغه چا عوض څه شی دی چې خپله دنده پوره وکړي؟ ملائکې ورته ووايې: ای زموږ پروردگاره! دهغه عوض دادی، چې هغه ته دې دهغه مزدوري پوره پوره ورکړل شي.بیا الله تعالی وفرمايي: ای زما ملائکو! زما بندګانو نارینه او زنانه ؤ زما فرض يې پرځای کړل چې پر دوی باندې وو بیا راووتل(له کورونو څخه) او آوازونه کوي ماته (او) زما څخه دعاء غواړي. زما دې په خپل عزت قسم وي او زما دې په خپل جلال قسم وي او زما دې زما په لوړه مرتبه قسم وي چې زه به ددوی دعاګانې قبلوم. بیا الله تعالی وفرمايي: لاړشئ ما درته ببننه وکړه او ستاسې بدی مې په نیکیو بدلې کړلی. نبي علیه السلام فرمايي: بیا به دوی کورونو ته په داسې حال کې ستانه شي ، چې ګناهونه به يې ببنل شوي وي.

د عبدالله بن عباس رضي الله عنه د حدیث په یوه برخه کې راځي:(فَإِذَا كَانَتْ لَيْلَةُ الْفِطْرِ سُمِّيَتْ تِلْكَ اللَّيْلَةُ الْجَائِزَةَ، فَإِذَا كَانَ غَدَاةُ الْفِطْرِ يَبْعَثُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ الْمَلَائِكَةَ فَيَمْضُونَ فِي الْأَرْضِ، فَيَقُومُونَ عَلَى أَفْوَاهِ السِّكَكِ، فَيُنَادُونَ بِصَوْتٍ يَسْمَعُهُ جَمِيعُ خَلْقِ اللهِ تَعَالَى إِلَّا الْجِنَّ وَالْإِنْسَ، يَقُولُونَ: يَا أُمَّةَ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، اخْرُجُوا إِلَى رَبٍّ كَرِيمٍ يُعْطِي الْجَزِيلَ وَيَغْفِرُ الْعَظِيمَ فَإِذَا بَرَزُوا إِلَى مُصَلَّاهُمْ يَقُولُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ لِلْمَلَائِكَةِ: يَا مَلَائِكَتِي، مَا جَزَاءُ الْأَجِيرِ إِذَا عَمِلَ عَمَلَهُ؟ قَالَ: تَقُولُ الْمَلَائِكَةُ: إِلَهَنَا وَسَيِّدَنَا، جَزَاؤُهُ أَنْ يُوَفَّى أَجْرَهُ قَالَ جَلَّ وَعَلَا: فَإِنِّي أُشْهِدُكُمْ أَنِّي قَدْ جَعَلْتُ ثَوَابَهُمْ مِنْ صِيَامِهِمْ شَهْرَ رَمَضَانَ وَقِيَامِهِمْ رِضَايَ وَمَغْفِرَتِي ). شعب الإيمان (٥/ ٢٧٨)، الترغيب والترهيب (٢/ ٦٢) وقال المنذري:وليس في إسناده من أجمع على ضعفه.

ژباړه:کله چې د کوچني اختر شپه شي دغه شپه په (ليلة الجائزة) باندې نومول شوی ده، کله چې د کوچني اختر سهار شي الله تعالی ملائکې ولیږي او هغوی لاړې شي په ځمکه کې او دریږي د کوڅو په سرونو کې او داسې آوازونه کوي چې د الله تعالی ټول مخلوق يې اوري ، مګر انسانان او پیریان يې نه اوري.ای دمحمد صلی الله علیه وسلم امته! راوځئ داسې رب ته چې کریم دی زیات ثواب ورکوي او لويه ګناه ببنې ، کله چې راشي (خلک) عیدګاه ته(لمانځه ځای ته) الله تعالی ووايي ملائکو ته ای زما ملائکو! څه دی عوض او بدله د هغه مزدور چې کله خپل عمل سرته ورسوي ؟ نبي علیه السلام فرمايي: ملائکې به ووايي: ای زموږ ربه او زموږ مولا! د هغه بدله دادی، چې هغه ته پوره مزدوري ورکړل شي.بیا به الله تعالی وفرمايي:زه تاسو شاهدان ګرځوم په دې چې بیشکه ما وګرځول ثواب ددوی د روژو او ددوی د قیام ثواب زما رضا او زما ببننه.

د کوچني اختر ورځ د اور څخه د خلاصون ورځ ده. د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه د حدیث په یوه برخه کې راځي:(وَلِلَّهِ عَزَّ وَجَلَّ عِنْدَ كُلِّ فِطْرٍ مِنْ شَهْرِ رَمَضَانَ كُلَّ لَيْلَةٍ عُتَقَاءَ مِنَ النَّارِ سِتُّونَ أَلْفًا، فَإِذَا كَانَ يَوْمُ الْفِطْرِ أَعْتَقَ مِثْلَ مَا أَعْتَقَ فِي جَمِيعِ الشَّهْرِ ثَلَاثِينَ مَرَّةً سِتِّينَ أَلْفًا سِتِّينَ أَلْفًا ). شعب الإيمان (٥/ ٢٢٢)، وقال المنذری: هو حديث حسن الترغيب والترهيب (٢/ ٦٤)

ژباړه: الله تعالی د رمضان په میاشت کې په هر روژه ماتي کې دجهنم له اور څخه شپیته زره خلک آزادوي. کله چې داختر ورځ شي، نو الله تعالی داختر په ورځ دټولی روژې دمیاشتې په اندازه انسانان آزادوي (د جهنم له اور څخه) دیرش ځله، شپیته زره، شپیته زره.

د حضرت موسی علیه السلام په مقابل کې چې کوم جادوګران له ماتې سره مخ شول د هغوی توبه هم الله تعالی د کوچني اختر په ورځ قبوله کړې ده.

## د کوچني اختر د لمانځه احکام:

د اختر لمونځ په هغه چا واجب دی چې د جمعې لمونځ وربانديې واجب وي، او داختر د وجوب او صحت شرطونه هماغه د جمعې د وجوب او صحت شرطونه دي.

د اختر په ورځ ځینې کارونه سُنت او ځینې مستحب دي ، د اختر په ورځ د لاندې کارونو کول ځینې سُنت دي اوځینې مستحب:

**۱-** دکوچني اختر شپه په عبادت سره ژوندۍ کول مستحب ده. په حدیث شریف کې راځي: (مَنْ قَامَ لَيْلَتَيِ الْعِيدِ مُحْتَسِبًا لَمْ يَمُتْ قَلْبُهُ يَوْمَ تَمُوتُ الْقُلُوبُ). سنن ابن ماجه (١/ ٥٦٧)

ژباړه: څوک چې د اخترونو (کوچنی اختر او لوی اختر) په شپو کې قیام وکړي د ثواب په نیک او د الله د رضا حاصلولو په نیت ، نو دده زړه به مړه نشي په هغه ورځ کې چې زړونه مړه کیږي.

امام نووي رحمه الله فرمايي: (اعلم أنه يُستحبّ إحياء ليلتي العيدين بذكر اللهّ تعالى والصلاة وغيرهما من الطاعات) الأذكار (١/ ٢٣٥)
ژباړه: پوهه شه! بيشکه مستحب دي ژوندۍ کول دوه شپې د داړو اخترونو د الله تعالی په ذکر سره ، په لمانځه سره او په نورو طاعتونو سره.
**٢-** غُسل کول .داختر په سهار غسل کول سنت دی او دا غسل يواځې د هغه چا لپاره نه دی چې لمانځه ته ځي، بلکې ددې حکم هغه چاته هم شامل دی چې لمانځه ته نه ځي ځکه چې دا د اختر د ورځې لپاره دی چې د زينت او پاکۍ ورځ ده. حاشية الطحطاوي (ص: ٣٤٤)، البحر الرائق (٢/ ١٧١)
**٣-** په کوچني اختر کې عيدگاه ته د تللو څخه مخکې يو څه خواږه خوړل مستحب دي او مستحب ده چې دغه خوږ شی خرما وي او په مستحب ده چې طاق عدد وي مراقي الفلاح - (١ / ٢١٦)
په حديث شريف کې راځي: (عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه قَالَ :كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ يَغْدُو يَوْمَ الْفِطْرِ حَتَّى يَأْكُلَ تَمَرَاتٍ.
وفي رواية :( وَيَأْكُلُهُنَّ وِتْرًا) صحيح البخاري ت (٢/ ٣٦٧)
ژباړه: دانس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت هغه وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم به نه وتلو(لمانځه ته) د کوچني اختر په ورځ؛ تر هغې پورې چې وبه يې خوړلې څو دانې خرما . په يو روايت کې راځي چې طاق عدد خرما به يې خوړله.
ترڅو داختر او د رمضان د ورځو ترمنځ توپير راشي، بل داچې دا ښکاره شي چې د اختر په ورځ روژه نيول ممنوع دي. په يوحديث شريف کې راځي: (عن أبي سعيد عن رسول الله صلى الله عليه و سلم أنه نهى عن صوم يوم الفطر ويوم الأضحى) . سنن ابن ماجه (١/ ٥٤٩)
ژباړه: دابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دی هغه د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه روايت کوي چې نبي عليه السلام منع کړې ده روژې د ورځې د کوچني اختر څخه او د روژې د لوی اختر څخه.
همدا راز د کوچني اختر په سهار کې خوراک کول د ټولو خلکو لپاره مسنون دي، که څوک لمانځه ته ځي او که نه ځي؛ ځکه دا ددې ورځې سنت دي نه د لمانځه سنت . رد المحتار (٦/ ١٤٦)
**٤-** په اختر کې ښايسته جامې اغوستل او خوشبو لګول مستحب دي .که هغه جديدې جامې وي او يا زړې پاکې، ولو که سپينې نه وي په حديث شريف کې راځي: (عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ - رضي الله عنهما - قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ - صلى اللهُ عليه وسلَّم - يَلْبَسُ يَوْمَ الْعِيدِ بُرْدَةً حَمْرَاءَ). المعجم الأوسط (٧/ ٣١٦) وصححه الالباني.
د عبدالله بن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم به د اختر په ورځ اغوستله چپنه سره.
يعنې داسې يمني چپنه به يې اغوستله چې په هغې کې به سره او شنه خطونه ؤ او خالصه سره نه وه. رد المحتار (٦/ ١٤٧)
امام مالک رحمه الله وايې: (سمعت أهل العلم يستحبون الطيب والزينة في كل عيد).المغني (٥/٢٥٨) .
ژباړه: ما داهل علمو څخه اوريدلي دي چې هغوی مستحب ګڼل خوشبو لګول او زينت کول په هر اختر کې.
**٥-**که په چا باندې سرسايه واجب وي ، نو په کارده چې د لمانځه څخه مخکې سرسايه ورکړي دې. سرسايه په خپله واجب ده، خود لمانځه نه مخکې اداء کول يې مستحب دي. مراقي الفلاح (ص: ٢١٦)
**٦-**عيدگاه ته د تللو نه مخکې مسواک استعمالول سنت دي .
**٧-** د اختر په ورځ د خپل طاقت موافق نفلي صدقه ورکول مستحب دي.
**٨-** عيدگاه ته پياده تلل او د اختر لمونځ په عيدگاه کې کول مستحب دي، ولو که دکلي مسجد يې د زياتو خلکو دځايدو ګنجايش هم ولري او دا صحيح قول دی. حاشية الطحطاوي (ص: ٣٤٦)
**٩-** د اختر د سهار لمونځ د محلې په مسجد کې کول په کار دي او بيا عيدگاه ته وختي تلل مستحب دي، ترڅو په لومړي صف کې ځای پيداکړي.
**١٠-** عيدگاه ته په يوه لاره تلل او په بله لاره را تلل سنت دي. په حديث شريف کې راځي: (عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ يَوْمُ عِيدٍ خَالَفَ الطَّرِيقَ). صحيح البخاري ت (٢/ ٤٠٠)
ژباړه: د جابر بن عبدالله رضي الله عنهما څخه روايت دی، هغه وايې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم به چې کله اختر ؤ لاره به يې بدلوله.

**١١-** د اختر په ورځ د الله تعالی په طاعت باندې او د هغه په نعمتونو باندې خوشحالي ښکاره کول او د مسلمانانو سره په ورين او روښانه تندي مخامخ كيدل مستحب دي.حافظ ابن حجر رحمه الله وايې:( إظهار السرور في الأعياد من شعار الدين).فتح الباري (٤٤٣/٢) .

ژباړه: د خوشحاليو اظهار په اخترونو كې د دين د شعائرو څخه دی.

**١٢-**په اختر کې يو بل ته د اختر مباركي ويل او د عباداتو قبليدو دعاء كول جائز ده.د صحابه كرامو څخه په مختلفو رواياتو كې د(تقبل الله منا ومنكم) دعاء كول ثابت دي. علامه ابن امير حاج وايې چې په شامي او مصري ښارونو كې (عِيدٌ مُبَارَكٌ عَلَيْك) او داسې نور الفاظ ويل تعامل دی.رد المحتار (٦/ ١٤٩)

**١٣-**په عيدگاه كې د اختر لمانځه څخه مخكې او وروسته نفل لمونځ كول مكروه دي.مراقي الفلاح - (١ / ٢١٦)

**١٤-**د كوچني اختر دلمانځه وقت يوه نيزه او يا دوه نيزې د لمر د راپورته كيدلو څخه شروع كيږي ؛ آن چې لمر ښه سپين شي.

## په اختر کې نيک او غوره کارونه:

اختر يواځې د لهو او لعب ورځ نه ، بلكې داختر ورځې دخوشحاليو ترڅنگ د عبادت او شكر ورځې دي.

په كار ده چې د اختر په ورځو كې چې د عبادت او شكر ورځې دي نور دښيگڼې كارونه وكړو لكه:

**١-**كه چيرې چا صدقة الفطر(سرسايه) نه وي وركړی، بايد چې صدقة الفطر مسكينانو او فقيرانو ته وركړي ، په چاچې صدقة الفطر(سرسايه) واجب شوي وي او د اختر لمانځه څخه مخكې يې ورنكړي ، بايد د اختر د لمانځه څخه وروسته يې وركړي ؛ ځكه په چا چې يوځل صدقة الفطر(سرسايه) واجب شوه، نو پرته د اداء كولو څخه د هغه له ذمې څخه نه ساقطيږي.

**٢-** د اختر په ورځو كې دبيوزلو، فقيرانو، كونډو، يتيمانو سره همكاري او مرسته كول په كار دي، خصوصاً د هغو خلكو سره چې د هجرت له وطن څخه خپل وطن ته راستانه شوي دي او ډير زيات مشكلات لري.

علماء كرام ليكي: هغه څوك چې شتمن وي بايد دفقيرانو او بې وزلو سره مرسته وكړي او دخپل توان په اندازه دې ورته خوراک وركړي. په حديث شريف كې راځي د ابوسعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دی هغه فرمايي پيغمبرعليه السلام به د وړوكي اختر په ورځ مونږ ته امر كولو چې خپلو فقيرانو ورونو ته د خوراک لپاره څه وركړو. التبصرة (٢/ ١١٤)

**٣-** بايد په دې ورځو كې د صله رحمۍ ځانگړی خيال وساتل شي ، صله رحمي قطع نه كړل شي او په دې هيله د خپلوانو او دوستانو پوښتنې او اختر مباركی ته ورته په كار دي.

**۴-** داختر په ورځو كې د اسراف څخه ځانونه وساتو، په خوراک او پوشاک كی او نورو مصرفونو كې د اسراف نه ځان و ساتو.

**۵-** د اختر په خوښيو كې دمنفي سياليو، رياء او ځان ښودنی، ټولنيزو خرافاتو او آفتونو څخه ځان وساتو.

**٦-** كوچنيانو او تنكيو ځوانانو ته دی توصيه وشي، چې په دې مباركې ورځ كې د هوايي ډزو، پټاقی الوزولو سره د خلكو زورولو نه ډډه وكړي، ترڅو د چا دغه د خوښۍ او خوشحالې ورځ په غم او انديښنو بدله نشي. بلكه په مسكا او تبسم سره د خلكو مخې ته ور شو او د نورو په ژوند كې هم مسكا خپره كړو. او بل دا چې خپلو امنيتی ځواكونو سره همكاری ده.

# د نېکمرغه کوچني اختر د را رسېدو په مناسبت د عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ‌القرآن و الحديث مولوي هبة الله اخوندزاده صاحب حفظه‌الله تعالی د مبارکې پيغام

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله نحمده ونستعينه ونستغفره ونتوب إليه ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا من يهده الله فلا مضل له ومن يضلل فلا هادي له وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

أما بعد:فقد قال الله سبحانه وتعالى في القرآن الكريم: {قَدْ أَفْلَحَ مَنْ تَزَكَّىٰ ، وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهِ فَصَلَّىٰ} [الأعلى: ۱۴، ۱۵].

ترجمه: په تحقيق برى موندلی، (په مراد رسېدلي دي) هغه څوک چې پاک شوي دي(په ايمان سره له معاصيو) او ياد يې کړ نوم د رب خپل(په تکبير سره) بيا يې لمونځ وکړ(چې نښه د اسلام ده). [کابلی تفسير]

و عن ابي هريرة رضي الله تعالى عنه قال، قال النبي صلى الله عليه وسلم: ((كل عمل ابن آدم يضاعف الحسنة بعشر أمثالها إلى سبعمائة ضعف قال الله تعالى : إلا الصوم فإنه لي وأنا أجزي به يدع شهوته وطعامه من أجلي للصائم فرحتان : فرحة عند فطره وفرحة عند لقاء ربه ولخلوف فم الصائم أطيب عند الله من ريح المسك والصيام جنة وإذا كان يوم صوم أحدكم فلا يرفث ولا يصخب، فإن سابه أحد أو قاتله فليقل إني امرء الصائم)). مشکوة شريف، متفق عليه

ترجمه: د حضرت ابو هريرة رضي الله تعالى عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل، د انسان د هر نيک عمل ثواب داسي زياتيږي، چې د يوې نيکۍ ثواب لس برابره ورکول کيږي، ترڅو چې دا ثواب اووه سوه پورې رسيږي، الله تعالی فرمايلي دي، د روژې ثواب تر دې هم زيات دی، ځکه چې روژه يوازې زما لپاره ده او زه به د دې ثواب ورکوم. (روژه نيونکی) خپل خواهشات او خپل خوراک يوازې زما د رضا لپاره پريږدي او هغه ته دوې خوښۍ ترلاسه کيږي، يوه خوښي د روژه ماتي پر وخت او دوهمه خوښي د خپل پروردگار سره د ملاقات پر وخت. د روژه نيونکي د خولې بوی د الله په نزد تر مشکو هم زيات خوشبو داره دی، او روژه سپر دی، هر کله چې په تاسو کې د يو چا روژه وي، نو د فحش خبرې دې نه کوي، نه دې پالتو چيغې وهي. که څوک هغه ته بد ووايي يا د جګړې کولو اراده ورسره وکړي، نو هغه ته دې وويي چې زما روژه ده. بخاري او مسلم

**د افغانستان مؤمنو او مجاهدو خلکو او د نړۍ مسلمانانو ته!**

**السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته**

د نېکمرغه کوچني اختر د رارسېدو په مناسبت تاسو د افغانستان مجاهد او متدينو خلکو او د نړۍ ټولو مسلمانانو ته مبارکۍ وايم او له الله تعالی څخه غواړم چې د روژې په مبارکې مياشت کې زموږ او ستاسو روژې، تراويح، او نور عبادتونه او خدمتونه په خپل عالي دربار کې قبول او منظور وګرځوي، مونږ او تاسو ټول د تقویٰ، اخلاص او استقامت په لاره ثابت قدمه ولري او د دنيوي او اخروي ژوندانه سعادتونه او نېکمرغۍ راپه برخه کړي.

**محترمو ورونو!**

الله تعالی د روژې مبارکه مياشت د صبر، تقویٰ او اجتماعي همدردۍ مياشت ګرځولې ده. الله تعالی فرمايلي دي: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ [سورة البقرة، ۱۸۳].

ترجمه: ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی (ای مؤمنانو!) فرض کړی شوې ده، پر تاسې باندې روژه؛ لکه چې فرض کړی شوې وه، په هغو کسانو چې پخوا له تاسې څخه وو، (لکه پخواني امتونه، او پيغمبران على نبينا و عليهم السلام) لپاره د دې چې تاسي ځان وساتئ! ( له ګناهونو څخه او پرهيزګاران شئ، ځکه چې روژه د شهواني قوې ماتوونکې ده). کابلی تفسير

او رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: وعن سلمان رضى الله تعالى عنه قال : خطبنا رسول الله صلى الله عليه وسلم في آخر يوم من شعبان فقال : " يا أيها الناس قد أظلكم شهر عظيم شهر مبارك شهر فيه ليلة خير من ألف شهر جعل الله تعالى صيامه فريضة وقيام ليله تطوعا من تقرب فيه بخصلة من الخير كان كمن أدى فريضة فيما سواه ومن أدى فريضة فيه كان كمن أدى سبعين فريضة فيما سواه وهو شهر

الصبر والصبر ثوابه الجنة وشهر المواساة وشهر يزداد فيه رزق المؤمن من فطر فيه صائما كان له مغفرة لذنوبه وعتق رقبته من النار وكان له مثل أجره من غير أن ينقص من أجره شيء " قلنا : يا رسول الله ليس كلنا يجد ما نفطر به الصائم . فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم : " يعطي الله هذا الثواب من فطر صائما على مذقة لبن أو تمرة أو شربة من ماء ومن أشبع صائما سقاه الله من حوضي شربة لا يظمأ حتى يدخل الجنة وهو شهر أوله رحمة وأوسطه مغفرة وآخره عتق من النار ومن خفف عن مملوكه فيه غفر الله له وأعتقه من النار " مشكوة "

ترجمه: د حضرت سلمان فارسي رضي الله تعالی عنه روايت دی چې د شعبان په اخري ورځ رسول الله صلی الله عليه وسلم موږ ته خطبه راکړه او وه يې فرمايل: اې خلکو! يوه لويه مياشت پر تاسو سايه غوړولې ده، چې ډيره برکتناکه مياشت ده. دا داسې مياشت ده چې په دې کې يوه شپه ده چې تر زرو مياشتو غوره ده، د دې مياشتې روژې الله تعالی فرض کړې او د دې مياشتې عبادت يې نفل ګرځولی دی. څوک چې په دې مياشت کې په نيکی سره د الله تعالی قرب ولټوي، نو د هغه ثواب دومره دی، څومره چې د فرضو د رمضان د مياشتې پرته په نورو مياشتو کې دی. څوک چې په دې مياشت کې فرض لمونځ ادا کړي، د هغې ثواب د رمضان د مياشتې پرته د نورو مياشتو د اويا فرضو برابر دی. دا مياشت د صبر مياشت ده او د صبر ثواب جنت دی. دا مياشت د غمخوارۍ مياشت ده. دا مياشت يوه داسې مياشت ده چې په دې کې د مؤمن رزق زياتيږي. څوک چې په دې مياشت کې د يوه روژه نيونکي د روژه ماتي بندوبست وکړي، نو د هغه د ګناهونو د بخښنې او د دوزخ د اور څخه د خلاصون سبب کېږي او هغه ته د روژه نيونکي د روژې برابر ثواب ورکول کيږي او په دې سره د روژه نيونکي ثواب هم نه کميږي. موږ پوښتنه وکړه اې د الله رسوله! زموږ سره دومره سامان نسته چې د روژه نيونکي روژه ماتي ورکړو، رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: الله تعالی دا ثواب هغه چاته هم ورکوي چې د شيدو يو غړپ يا په خرما سره يا د اوبو يوه غړپ سره د چا روژه ماتی وکړي. څوک چې روژه نيونکي ته په په ماړه نس ډوډۍ ورکړی، الله تعالی به هغه زما په حوض داسې اوبه کړي چې بيا به هيڅکله نه تږی کيږي، ترڅو چې جنت ته ولاړ سي. دا مياشت داسې مياشت ده چې په لومړی کې رحمت دی، په منځ کې بخښنه او په پای کې د دوږخ څخه خلاصون دی. چا چې په دې مياشت کې د خپل روژه نيونکی غلام څخه لږ کار واخيستی او د هغه په کار کې يې کمي وکړل، نو الله يې بخښي او د دوږخ څخه خلاصون ورکوي.د روژې مبارکې مياشتې په پای ته رسېدو سره نن هغه مبارکه ورځ ده، چې په دې ورځ کې مسلمانان سرسايه او د کوچني اختر لمونځ اداء کوي لکه چې الله پاک فرمايلي دي: {قَدْ أَفْلَحَ مَنْ تَزَكَّىٰ، وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهِ فَصَلَّىٰ} [الأعلى: ۱۴، ۱۵ ايتونه].ترجمه: په تحقيق برى موندلی، (په مراد رسيدلي دي) هغه څوک چې پاک شوي دي (په ايمان سره له معاصيو) او ياد يې کړ نوم د رب خپل (په تکبير سره) بيا يې لمونځ وکړ(چې نبنه د اسلام ده). [کابلی تفسير].

دلته د تزکيې څخه مراد د فطر صدقه ده او له ذکر څخه مراد د اختر تکبيرونه دي، او له لمانځه څخه مراد د اختر لمونځ دی، (يعني د اختر په ورځ اول د فطر صدقه (سرسايه) ورکړه، بيا تکبيرونه ووايه او د اخترلمونځ وکړه). [کابلی تفسير] او د دې ترڅنګ مسلمانان په دې ورځ د خوشحالۍ اظهار کوي. نو تاسو هم کوښښ وکړئ سرسايه ادا کړئ او مالداره مسلمانان دي د اسلامي ورورولۍ له مخې د نورو نفلي صدقاتو او مالونو په ورکولو سره هم د کونډو، يتيمانو او بېوسو کورنيو خصوصا بې وسه ګاونډيانو سره مرسته او د هغوی لاس نيوی وکړي، تر څو هغوی هم وکولای شي د اختر مبارکې شپې او ورځې په خوښيو او خوشحاليو سره ولمانځي.

عن أنس قال : قدم النبي صلى الله عليه وسلم المدينة ولهم يومان يلعبون فيهما فقال : " ما هذان اليومان ؟ " قالوا : كنا نلعب فيهما في الجاهلية فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم : " قد أبدلكم الله بهما خيرا منهما : يوم الأضحى ويوم الفطر " . رواه أبو داود

ترجمه: انس رضي الله عنه روايت کوي چې کله رسول الله ﷺ مدينې ته راغی، نو هلته د هغوی(مدينې منورې خلکو لره) دوې ورځې وې چې لوبې به پکښې کولې (د جاهليت د زمانې اخترونه چې نوروز او مهرجان نومېدل). نو رسول الله ﷺ وفرمايل: "الله تعالی تاسو ته د دې دواړو ورځو پر ځای غوره ورځې درکړې دي: د قربانی ورځ (د لوی اختر ورځ) او د فطر ورځ (د کوچني اختر ورځ).

په بل حديث شريف کې راځي: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما قَالَ: فرض رسول الله صلى الله عليه وسلم زكاة الفطر طهر الصيام من اللغو والرفث وطعمة للمساكين . رواه أبو داود

ترجمه: ابن عباس رضي الله تعالی عنهما روايت کوي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د بېهوده او بدو خبرو څخه د روژې د پاکولو لپاره او په مسکينانو باندې د خوړلو لپاره صدقه فطر لازمه ګرځولې ده.

**محترمو مسلمانانو ورونو!**

نن موږ په هغه ورځ کې قرار لرو، چې الله تعالی پکې د خلکو ګناهونه بخښي او دعاګانې یې قبلوي. نو تاسو هم ټول باید خپلو مسلمانانو ورونو ته علی الخصوص امیرالمؤمنین، مجاهدینو، مسئولینو ته د حفاظت او استقامت او د اسلامي شرعي نظام د بقأ دعا وکړئ، د اختر د مبارکو شپو او ورځو د درناوي په موخه خپلمنځي بدبینی، زړه بدوالی، بغض او کینې له زړونو څخه وباسئ، یو بل ته بخښنه وکړئ او یو بل ته د اختر مبارکي ورکړئ.

لکه چې الله تعالی فرمایلي دی: الَّذِينَ يُنْفِقُونَ فِي السَّرَّاءِ وَالضَّرَّاءِ وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ. سورة ال عمران، ۱۳۴

ترجمه: هغه کسان چې نفقه ورکوي، ( مال لګوي د الله په نامه) په خوښۍ (یا ارزانی یا شتمنی کې) او تکلیف (یاقیمتۍ یا تنګسه کې) او چې زغمونکي د قهر دي، (سره له قدرته) او عفوه کونکي دي، له خلکو ( چې پرې وکړي زیاتی او ظلم) او الله خوښوي نیکي کونکي. کابلی تفسیر

**متدینو وطنوالو:**

په افغانستان کې د اسلامي امارت تر سیوري لاندې د امربالمعروف، نهي عن المنکر او د شکایتونو اورېدلو وزارت د هر ډول فساد د مخنیوي هڅه کوي.لکه چې الله تعالی فرمایلي دي: كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ سورة آل عمران آية ﴿۱۱۰﴾.

ترجمه: یئ تاسې (ای محمدي امته!) خیر (بهتر د هر هغه) امت چې ایستلي شوي دي، لپاره د خلکو، چې حکم کوئ تاسې (هر چا ته) په معروف (نېکۍ) سره او منع کوئ تاسې (هرڅوک) له منکر (بدۍ) څېنې. کابلی تفسیر

د امربالمعروف، نهي عن المنکر او د شکایتونو اورېدلو وزارت محتسبین په خپله سعیه او کوښښ سره د خلکو په اصلاح بوخت دي، چې له امله یې د منکراتو کچه ټیټه شوې ده، او دا د اسلامي نظام یو له سترو اهدافو څخه دی چې په ټولنه کې د هر ډول مفاسدو مخنیوی وشي، کله چې فساد ختم شي، زموږ تاسو ژوند سوکاله، عزت مو خوندي، وقار مو پرځای او خلک مو د اسلام له خوند څخه برخمن کېږي او د الله جل جلاله د رحمت مورد ګرځو. د اسلامي امارت ټول ارګانونه همدا ډول عام خلک مو باید د فساد د محوې او له منځه وړلو لپاره د امر بالمعروف، نهي عن المنکر او د شکایتونو اورېدلو له وزارت سره دوامداره همکاري ولري او ملاتړ یې وکړي، ترڅو له فساد او فتنو څخه پاکه ټولنه ولرو او راتلونکي نسلونه مو د ناسمو عقائدو، ناوړه رواجونو او بد اخلاقیو قرباني نه شي.

د پورته مفاسدو په مخنیوي کې د ټولو علماء کرامو مسئولیت جوړېږي چې د ځوانانو د عقیدو په سمولو او د منکراتو د مخنیوي په برخه کې پوره همکاري وکړي او خپل شرعي مسئولیت ادا کړي، ترڅو د اسلامي امارت ټول فرامین، قوانین او په ځانګړې توګه د امر بالمعروف قانون لا ډېر خلکو ته تشریح او په عمل کې پیاده شي.

**خوږو مسلمانانو ورونو:**

الحمدلله چې د الله جل جلاله په نصرت او د اسلامي امارت د مجاهدینو د قربانیو او ستړیاوو په برکت د افغانستان خلک د بل هر وخت په نسبت، په ښه امنیت کې ژوند کوي، باید دا هېره نه کړو چې امنیت یو لوی الهي نعمت دی چې باید له امله یې د الله تعالی دوامداره شکر ادا کړو.

لکه چې الله تعالی فرمایلي دي: وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّ اجْعَلْ هَذَا بَلَدًا آمِنًا وَارْزُقْ أَهْلَهُ مِنَ الثَّمَرَاتِ مَنْ آمَنَ مِنْهُمْ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ... ﴿۱۲۶﴾ سورة البقرة

ترجمه: او (یاد کړه ای محمده!) هغه وخت چې وویل ابراهیم: ای ربه زما! وګرځوه دا ښار (چې کعبه مې په کې ودانه کړېده) ځای د امن. او روزي ورکړه اوسېدونکو ته یې له هر راز میوو نه، هر هغه چا لره چې ایمان یې راوړی دی له دوی څېنې په الله او په ورځ آخره باندې (چې د قیامت ورځ ده). کابلی تفسیر

حضرت ابراهیم علیه السلام لومړی د مکې مکرمې لپاره د امن دعا وکړه او وروسته یې د هغه ښار آبادي وغوښته، له دې څخه واضح کېږي چې امنیت له نورو نعمتونو څخه مخکې یو مهم الهي نعمت دی.

بله دا چې د خپلو امنیتي ځواکونو او مجاهدینو کلک حمایت او ملاتړ وکړئ، ځکه د مجاهدینو او امنیتي ارګانونو د شپو او ورځو زحمتونو نتیجه ده چې نن مو د دښمنانو دسیسې ختمې شوې دي، خلک مو د شپې او ورځې د وطن هرې برخې ته سفرونه کولای شي چې دا ټول باید هېر نه کړو او قدر یې وکړو.

**محترمو مؤمنو او مجاهدینو ورونو!**

د شاوخوا څلورو لسیزو سختو جګړو، او بالخصوص د امریکا په مشرۍ د غربي نړۍ په ملګرتیا د ډول ډول کړاوونو او تکلیفونو وروسته د الله تعالی په خاص فضل او نصرت د افغانانو د جهاد، اوږدو قربانیو، صبر او استقامت په نتیجه کې د فتحې، عمومي امنیت او د ثبات مرحلې ته ورسېدو. الله تعالی موږ او تاسو د فاسد او غیر شرعي نظام په بدل کې د اسلامي شرعي نظام او د ښه امنیت څښتنان کړي یو، نو باید موږ او تاسو د دې ستر نعمت ډېر شکر ادا کړو. تاسو کوښښ وکړئ لکه څنګه مو چې د شرعي نظام د راستلو لپاره قرباني ورکړې دي، هغسې د اسلامي شرعي نظام ساتنه او د مسئولینو پوره اطاعت وکړئ، د اسلامي نظام د استحکام لپاره کوښښ وکړئ او د هر قسم اختلافاتو څخه ځانونه وساتئ. لکه چې الله تعالی فرمایلي دي: }وَإِذْ تَأَذَّنَ رَبُّكُمْ لَئِنْ شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ وَلَئِنْ كَفَرْتُمْ إِنَّ عَذَابِي لَشَدِيدٌ{ [سورة ابراهيم: ۷].

ترجمه: او یاد کړه هغه وخت چې خبر درکړ تاسې ته، رب ستاسې، په دې چې قسم دی، که چیرې شکر وویستلو تاسې، (په تیرو نعمتونو، احسانونو زما) نو خامخا زیات به کړم، تاسې ته نعمت او قسم دی، که یې بې قدري ناشکري وکړه تاسې، ( د نعمتونو، احسانونو زما) نو بیشکه عذاب زما خامخا ډیر سخت دی. کابلی تفسیر ؛ په بل آیت کریمه کې الله تعالی فرمایلي دي: }وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعاً وَلا تَفَرَّقُوا {[سورة آل عمران: ۱۰۳].

ترجمه: او منګولې ولګوئ (ای مومنانو!) په رسۍ د الله ( چې قرآن دی) ټول او مه سره مختلف کیږئ (وروسته له اسلامه) کابلی تفسیر همدارنګه الله تعالی په یو بل مبارک آیت کې فرمایلي دي: }وَأَطِيعُواْ اللّهَ وَرَسُولَهُ وَلاَ تَنَازَعُواْ فَتَفْشَلُواْ وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ{ الآية [سورة الأنفال: ٤٦].

ترجمه: او حکم ومنئ تاسې د الله، او د رسول د دغه ( الله) او مه کوئ جګړه په خپلو منځونو کې ( په کار دې جهاد کې) پس بې زړه به شئ تاسې او لاړ به شي باد ( د نصرت، قوت او دولت) ستاسې ....

**غیورو او مجاهدو خلکو!**

د مسلمانانو عزت، کامیابي او سر لوړي د دوی په اتحاد، ورورولۍ او یووالي کې ده؛ نن چې د اختر مبارکه ورځ ده، نو تاسو ټول خپل اتحاد او یووالی لا پیاوړی کړئ او د هر ډول سمتي، ژبني او قومي تعصباتو څخه ځانونه وساتئ.

الحمد لله د اسلامي امارت په راتګ سره افغانانو ته الله تعالی له کلونو کلونو مخالفتونو او جګړو وروسته د وحدت او اتفاق ښه فرصت برابر کړی دی، راځئ له دې فرصت څخه ښه ګټه واخلو، خپل وحدت او یووالي چې زموږ ټولو د بریا او عزت راز دی لا زیات محکم او پیاوړی کړو، د دښمنانو دسیسو ته متوجه واوسو، له خپل اسلامي او شرعي نظام او حاکمیت څخه په هر میدان کې کلکه دفاع وکړو او د همدې نظام تر چتر لاندې په عزت او حریت کې ژوند وکړو.

په اخترونو او نورو لمونځونو کې اجتماعات او راټولېدل هم موږ ته د اتفاق، وحدت او ورورولۍ پیغام راکوي، موږ ته دا را زده کوي چې موږ باید د نورو مسلمانانو په خوشحالۍ خوښ او پر خفګان يې خفه شو، که د نړۍ په کومه برخه کې مسلمانان له ځور، درد او غم سره مخ وي، زموږ او ستاسو مکلفیت دی چې د هغوی په غم او درد کې ځان ورسره شریک وګڼو؛ ځکه چې مسلمانان د یو جسم حیثیت لري، لکه چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: ((مَثَلُ الْمُؤْمِنِينَ فِي تَوَادِّهِمْ وَتَرَاحُمِهِمْ وَتَعَاطُفِهِمْ، مَثَلُ الْجَسَدِ، إِذَا اشْتَكَى مِنْهُ عُضْوٌ، تَدَاعَى لَهُ سَائِرُ الْجَسَدِ بِالسَّهَرِ وَالْحُمَّى)). [صحيح مسلم، كتاب البر والصلة والآداب، باب تراحم المؤمنين وتعاطفهم وتعاضدهم]

ترجمه: د مؤمنانو مثال له یو بل سره په خپلمنځي مینه، مهربانۍ او شفقت کې د یو بدن په شان دی؛ که د بدن یو اندام دردمن شي، نو ټول بدن ورسره بې خوبه او په تبه وي.

**محترمو مسلمانانو ورونو!**

لکه څرنګه مو چې په تیر کې د فرمانونو، حکمونو او قوانینو اطاعت کړی، په راتلونکې کې هم دوام ورکړئ، ځکه د أولي الأمر د فرمانونو، قوانینو او حکمونو اطاعت او پیروي د قرآن کریم د صریح آیت مطابق پر هر مسلمان باندې فرض ده. الله جل جلاله فرمایلي دي: }يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الأَمْرِ مِنكُمْ{ سورة النساء: ۵۹ .

ترجمه: ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی، (ای مومنانو!) حکم ومنئ تاسې، د الله! او حکم ومنئ تاسې د رسول ( دالله) او (حکم ومنئ) د خاوندانو د حکم له تاسې ( مسلمانانو یعنې حاکمانو او مشرانو!).

**مسلمانانو ورونړو!**

د دیني پرمختګ سره سره اعمار، رغول او د مځکې ابادول هم د اسلامي نظام مسؤلیت دی. مسؤلین او غیر مسؤلین دي کوښښ وکړي، د دیني خدماتو ترڅنګ د ابادي خدماتو ته توجه وکړي.الله تعالی فرمایلي دي: {هُوَ أَنْشَأَكُمْ مِنَ الْأَرْضِ وَاسْتَعْمَرَكُمْ فِيهَا} [هود: ٦١].
ترجمه:همدغه (الله) پیدا کړي یئ تاسې له ځمکې (چې آدم یا ماده د نطفې ده) او اوږده عمرونه یې درکړي دي تاسې ته، په دغې ( ځمکې) کې. کابلی تفسیر

**مجاهدو او متدینو خلکو!**

د تعلیم او تربیې په برخه کې پوره کوښښ وکړئ، د ځوانانو، عوامو خلکو او مجاهدینو د افکارو د تنویر او دیني تندې خړوبولو په موخه پوره توجه وکړئ، مسئولین دې، تربیتي حلقې او اصلاحي مجلسونو ورته برابر کړي، په کومه ساحه کې چې مساجد نه وي، هلته مسجدونه اباد کړئ، علماء کرام دې په مساجدو کې خلکو، ځوانانو او ماشومانوته دیني تعلیم ورکړي، له خپلو مهاجرو ورونړو سره چې د نورو ملکو څخه راستنیږي، ټول افغانان دي د دوی سره مرسته او همکاري وکړي.
**محترمو مسلمانانو!**
اسلامي امارت غواړي له اسلامي نړۍ سره د اسلامي اخوت په اساس ټینګې او ښې اړیکې ولري. الله تعالی فرمایي: إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ... سورة الحجرات آیة ﴿١٠﴾ . ترجمه: بېشکه چې مؤمنان ټول (په دین کې) سره ورونړه دي. کابلی تفسیر
همدا راز غواړي له نورو ملکونو سره په اسلامي اصولو ولاړې ښې او ګټورې اړیکې ولري. له ټولو خواوو څخه غواړو چې د افغانستان د خلکو معتقداتو او ارزښتونو ته درناوی وکړي او زموږ په کورنیو چارو کې مداخله ونه کړي.
اسلامي امارت د نړۍ په هره برخه کې د مسلمانانو پر وړاندې ناوړه کړنې او د هغوی پر حقوقو تجاوز ظلم بولي او په کلکو ټکو یې غندي.
په پای کې یو ځل بیا د کوچني اختر د مبارکو شپو او ورځو په مناسبت تاسو ټولو درنو افغانانو او د نړۍ مسلمانانو ته د زړه له کومې مبارکي وړاندې کوم، الله تعالی دې مونږ او ټول اسلامي امت له هر ډول آفتونو، ستونزو او ناخوالو څخه وساتي، شهیدانو ته دې لوړ درجات، ټپیانو او ناروغانو ته عاجله شفاء او ټولو مسلمانانو ته عزت، اتفاق او بریا په نصیب کړي. آمین یارب العلمین

**والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته**

**امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث مولوي هبة الله اخندزاده حفظه الله تعالی**

**٢٧ رمضان المبارک ١۴۴٧ هـ ق**

**١۴٠۴/١٢/٢۵هـ ش ـــ ١٦/٣/٢٠٢٦م**